۲۰۱۲/۰۹/۱۹

# په ټاکنو کی د غرضونو سیوری

په ټاکنو قانون کې بدلون د اجراتو په بڼه کې تغیر نشي راوستلی. اصلا د قانون مجریان باید بدل شي. تر ټولو لومړی باید د ټاکنو کمیسیون اداري جوړښت بدلون وموومي او له هغې وروسته د قانون په بدلون فکر وشي، د قانون ستونزه هومره نده لکه په ټاکنو کمیسیون کې چې د اشخاصو هغه ده.

که افغانستان غواړي راتلونکې رڼې ټاکنې ولري باید په بنسټونو کې بدلون راولي. همدا اوس یې ښه وخت دی، چې ولسمشر د ټاکنو کمیسیون مشر او کمېشنران یې لرې او پرځای یې ملي او قانون ته ژمن کسان وګماري. د ګاونډیو په پرتله اوس هم د افغانستان د ټاکنو قانون روڼ او ښه دی، خو ستونزه پخپله په ټاکنو کمیسیون کې ده، چې په تېرو ټاکنو کې یې یو اړخیز چلند وکړ.

یو شمېر کارپوهان وایي، د ټاکنو قانون له بدلېدو سره سره په هېواد کې د حکومتدارۍ په سیستم کې ستونزې د ټاکنو قانون ستونزې نشي اوارولی.

دوی د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو بېلګه یادوي، چې په پایله کې یې کارېدلو رایو یوازې د افغانستان له ۵ تر ۱۰ سلنې خلکو ګډون وښود، په داسې حال کې چې په دیموکراتو هېوادونو کې تر ۵۰ سلنې د کمو خلکو ګډون ته شفافې ټاکنې او حتی مشروع نشي ویل کېدای.

د ټاکنو په اوسني قانون کې بله لویه ستونزه د منظموسیاسي احزابو د نه ونډې ده، چې له تعدیلېدونکي قانون سره به هم پرخپل ځای پاتې وي.

په تېرو پارلماني ټاکنوکې د ټاکنو کمیسیون د اجراییوي ضمانت نشتوالي ته په کتو حقوقپوهان اټکل کوي، چې په راتلونکو ټاکنو کې به هم ورته ستونزې تکرار شي.

خو یو شمېر نور څارونکي د ټاکنو په قانون کې د درېیم ځل لپاره تعدیلاتو ته په ښه سترګه ګوري.

د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز مشرعبدالغفور لېوال وایي، د ټاکنو په تعدیلېدو سره سیاسي ګوندونه خپل اهمیت پیدا کوي:(( اصلا په تېرو ټاکنو کې هم ډېرې ستونزې د قانون د نیمګړتیا له امله وې. د ټاکنو په پخواني قانون کې د نظارتي او اجراییوي څواکونو ترمنځ ټکراو خلا موجوده وه، پدې معنا چې د ټاکنو کمیسیون او نظارتي بنسټونود مسولیتونو ترمنځ مخالفت و. په تېر قانون کې نوماندانو ته شخصي آزادۍ ډېرې وې، خو په اوسني قانون کې ګوندي آزادیو ته ډېر پام شوی دی.))

اصلا په افغانستان کې لویه ستونزه پر قانون د فردي غوښتنو اولویت دی، داسې ډېر نور قوانین به هم رامنځ ته شي، خو د قاطع اجراییوي څواک نشتوالي ستونزه لویه کړې.

حقوقپوه اجمل هوډمن وایي، په ټاکنو قانون او سیستم دواړو کې ستونزې شته، خو د ټینګار ځای پخپله د ټاکنو کمیسیون دی، چې ایا په ټاکنو کې د ستونزې د اواري اراده لري؟ دی وایي:(( تېر ته په کتو ددې کمیسون پرېکړې د خلکو د ارادو پایله نه ښیي، خو که د ټاکنو کمیسیون قاطع وي، نو په ټاکنو کمیسیون کې تعدېل ته په مثبته سترګه کتل کېدای شي، که ټاکنو کمیسیون اجرایوي ضمانت ولري زه دغه تعدیلات مثبت ارزیابي کوم.))

ښاغلی هوډمن په ټاکنو قانون کې د پارلماني ټاکنو ستونزه لویه او جدي بولي.

په افغانستان کې د اداري واحدونو او نفوس ګونګ تشکیل او ناڅرګنده احصایه د ټاکنو قانون د عملي کولو پر وړاندې یوه بله ستره او جدي ستونزه ده.

په هېواد کې د نا امنۍ ترڅنګ یادې ستونزې هم د ۱۳۹۳ لمریز کال د ټاکنو شفافیت په اړه پوښتنې راولاړوي.

په ټاکنو قانون کې د درېیم ځل لپاره د تعدیلاتو په اړه له مثبتواومنفي نظریو سره سره عدلیه وزارت وایي، دغه قانون به د تلې په دوولسمه نېټه وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

په ورته وخت کې د ټاکنو کمیسیون مشر فضل احمد معنوي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، په دغه مسوده کې هڅه شوې ډېر مسولیت حکومتي بنسټونو ته وسپارل شي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ